**د استرالیا د لوی درستیز پیغام او د بخښنې مراتب**

زه د استرالیا د دفاعی ځواکونو په استازیتوب د افغانستان له شریفو خلکو څخه د هغو تېروتنو له امله د زړه له کومې بخښنه غواړم چې په افغانستان کې د استرالیایي ځواکونو له لوري تر سره شوې دي. ما له خپل افغان سیال محترم جنرال صاحب ضیاء سره په دې هکله خبرې وکړې او خپل پیغام مې ورته ورساوه.

دغه ډول ناوړه کړنې:

- دغه ډول ناوړه کړنې پر استرالیایي ځواکونو باندې د افغانانو اعتبار او باورمندی ته بې احترامي او بې حرمتي ده په داسې حال کې چې افغانانو له استرالیا څخه د مرستې غوښتنه کړې وه.
- دغه ډول ناوړه کړنو ممکن د افغانانو ژوند، کورنۍ او ټولنې ویجاړې کړې وي او ممکن هغوی ته یې د نه زغملو درد او رنځ ورکړی وي.
- دغه ډول ناوړه کړنو شایي زمونږ ماموریت، زمونږ افغان همکاران او همدارنګه زمونږ د ائتلافی شریکانو خوندیتوب له خطر سره مخامخ کړي وي.

استرالیا به له دغو خلکو سره هرومرو حساب وکړي. مونږ به پوره هڅه وکړو چې د قربانیانو او د دوی کورنیو ته په پوره احترام سره پر هغوی عدالت تطبیق کړو.